# ځایناستی حکومت
# په ریاستي ولسواکیو کې د نابریالیو حکومتونو
# او د ټاکنو پروخت د حکومت بدیل
# د افغانستان لپاره وړاندیزونه



نور رحمان لېوال

# لړلیک

لنډیز ........ 2
د اوسني حالت او حکومت حقوقي ارزونه........ 2
د اوسنی حالت او حکومت، سیاسي ارزونه او د قانون جوړوني نشتون ........ 4
د غبرګولي ۱ نېټه ۱۳۹۸ کال له بحران څخه د وتلو تګلارې او چارې........ 6
لومړۍ او ټولمنلې تګلاره: ځایناستی یا سرپرست حکومت د اوسنیو ولسمشرۍ نوماندانو+مخالفینو څخه د خپلمنځي ټاکنو له لارې ....6
لومړی: لنډمهالی،عبوري، Provisionalیا Interim حکومت........ 6
دویم: ځایناستی یاCaretaker Government ........ 6
د ځایناستي حکومت د ګمارنې تګلاره ........ 7
د دې تګلارې ګټې........ 8
ددې تګلارې زیانونه........ 8
دویمه تګلاره : اوسنی ولسمشر د ځایناستي ولسمشر په توګه........ 9
د دې تګلارې ګټې........ 9
د دې تګلارې زیانونه ........ 9
دریمه تګلاره: د مشرانو جرګې مشر د ځایناستي ولسمشر په توګه ........ 9
د دې تګلارې ګټې........ 10
د دې تګلارې زیانونه ........ 10
څلورمه تګلاره: ولسمشرۍ نوماندان سربېره د ګوندونه، مدني ټولنو او نامتو کسانو څخه ځایناستی حکومت........ 10
د دې تګلارې ګټې........ 10
د دې تګلارې زیانونه ........ 10
افغانستان کې ولې ځایناستی حکومت؟........ 11
دغه حالت کې پاته کېدو ننګونې........ 13
پایله........ 13

# ځايناستې حکومت

# په رياستي ولسواکيو کې د نابرياليو حکومتونو

# او د ټاکنو پروخت د حکومت بديل

# د افغانستان لپاره وړاندېزونه

نور رحمان لېوال

## لنډيز

د ۱۳۹۸ کال د غبرګولي په ۱ ، هېواد له حقوقي، قانوني او سياسي ستونزو سره مخکېږي چې سياسي ټيکاو به لا بدتر کړي، چېرته چې سياسي ټيکاو نه وي هلته سوله او امنيت نشي راتلای او د دوی په نه شتون کې پرمختګ نشي کېدای. د ملي يووالي حکومت پرلپسې ناوړو پايلو د ولسواکۍ بهير له سترو ګواښونو او ولس د ټکر له ګواښ سره مخ کړی دی. اوس موږ په ملت، حکومت او سياستوالو غږ کوو چې راځئ مخنيوېپالنه غوره کړو او په دربمه نړۍ کې له پېړيو دود غبرګونپالنې څخه ووځو، پرېنږدو چې حکومت غيرقانوني حالت او د ټولواکۍ بڼه خپله کړي، په دغه تړاو د حکومت ناوړه او ناولې ډنډورې چې وايي اوسنی حکومت بديل نلري. دا ناوړه ذهنيت به حکومت اړ کړي چې خپل پايښت په بېړني حالت راوستلو او اږودوږ کې ووينې، ولسواکي به وځپي، چې له دغه ناقانونه حالت څخه به د هېواد دوښمنان ګټه پورته کړي او هېواد به لا نور کړکېچن حالت ته بوځي. دغه ډول حالت به د هېوادوالو سر او مال نور هم له زيانونو سره مخکړي، نو ځکه اړينه ده چې دغه حالت په منتقي، قانوني او اساسي توګه د ملت د ارادې له اړخه وڅېړل شي او ټولمنلی حل يې راووځي.

اوس د ملي يووالي حکومت سرکښانو پورې اړه لري چې ځان او ملت ګواښ سره مخکوي، د ناوړه تاريخ يوه بله لسيزه پيلوي او که د سولې او پرمختګ لپاره له ۲ مياشتې ناقانونه حکومتي واک څخه تېرېږي چې په ترڅ کې به د سولې، ولسواکۍ او قانون ته د درناوي اتل کېږي.

خو په ډاډسره ويلی شو چې په واک کې پاتې کېدل به يې ګواښونو سره مخ کړي او هم به يې له واکه لاسپسر کړي، ځکه د حکومت مخالفين له اوسني حکومت سره سوله نه کوي او ولس سوله غواړي، نو پردغه بنسټ په راتلونکو ټاکنوکې ولس پر هغوی باور نکوي چې سوله نه غواړي. د ملي يووالي حکومت په سوله کې خپلې ګټې نه ويني، کېداي شي ولسمشر د خپل واک د غځېدو لپاره د اساسي قانون ۱۴۷ مادې بېړني حالت څخه ګټه پورته کړي، ترڅو د غبرګولي ۱ نېټې څخه وروسته د خپل حکومت د غځېدو جواز پيدا کړي چې دا به ترټولو کرغېړنه کړنه وي، دې او نورو ورته ستونزو له امله اوسنی حالت او حکومت له حقوقي اړخه څېړو:

### د اوسني حالت او حکومت حقوقي ارزونه

د ولسواکۍ په نظامونو کې چې حاکميت په ولس پورې اړه لري د قدرت تر لاسه کول د يوه ټولنيز وکالتي تړون او ټاکنو له مخې هغو کسانو ته سپارل کېږي چې ورته‌يا يې ولري. نو له همدې امله پدې تړون کې مهال وېش ډېر اهميت لري چې کاري موده د ديکتاتورۍ، ټولواکۍ، پاچاهۍ او ولسواکۍ ترمنځ مهم توپيرګڼل کېږي چې ملت يې د رايو له لارې خپل وکيل ياني ولسمشر ته ورکوي.

د افغانستان اساسي قانون د ۶۱ مادې ۲ بند کې د جمهوري رياست موده داسې ټاکل شوې ده ( د ولسمشر دنده د ټاکنو له ترسره کېدو ۵ کاله وروسته د غبرګولي په ۱ نېټه پای ته رسېږي) لدې امله ځينې د پورتني حکم قيد (د ټاکنو له تر سره کېدو وروسته) داسې اټکلوي چې ټاکنې (په هر دليل چې وي) تر سره نشي، نو د ولسمشرۍ موده غځېږي. د همدغه بنسټ پر اټکل په ۱۳۸۸او ۱۳۹۴ کلونو کې د ولسمشر موده هم وغځېده. دې ته ورته د ولسي جرګې په اړه هم ناسم حکم موجود دی. د اساسي قانون د ۸۳ مادې ۲ بند کې د ملي جرګې يا ملي شورا د کار ختمېدل هم د ټاکنو د وروستي اعلان څخه ۵ کاله وروسته د چنګاښ ۱ نېټه ټاکلی ده، له همدې اټکل څخه په ګټه، د ۱۶ تقنيني دورې ټاکنې ترسره نشوې، دې دورې ټول ۸ کاله دوام وکړ چې ۵ کاله يې خپل وو ۳ کاله نور غير قانوني وخت ورکړل شو. که چېرې يوازې همدغه احکام د اساسي قانون ۶۱ او ۸۳ مادو، ۱ بندونه معيار وګرځوو نو هماغه ګمانونه منځته راوړي، خو دلته بنسټيزې پوښتنې را برسره کېږي چې دغه ډول اټکل يې ځواب ويوونکی نه دی، د بېلګې په ډول:

- که ولسمشر په لوی لاس ونه غواړي چې ټاکنې ترسره کړي تر څو واک کې پاتې شي او په ډول ډول پلمو هغه وځنډوي نو د ولس ( موکل) او خپله د ولسمشر (وکيل) ترمنځ د ولسمشرۍ (وکالت) تړون سرنوشت چې په هغه کې رايې د پنځو(۵) کالو لپاره کارول شوي وې هغه به څنګه شي؟ په ياد ولرئ چې د موکل (ولس) د غوښتنې پرته هېڅ محاکمه د وکالت (ولسمشرۍ) موده نشي تمديدولی.
- په دغه حالت کې به د يوه ټاکل شوي ولسمشر او يوه ديکتاتور ترمنځ چې له ولس څخه يې مشروعيت نه وي تر لاسه کړی توپير څه وي؟
- د بېلګې په ډول دا هم کېدای شي ولسمشر دې ټاکنې ترسره کول وغواړي ولې د مديريتي کمزورتيا او مالي امکاناتو د نشتون له امله د ټاکنو ترسره کولو باندې ونه توانېږي چې د همدغه کمزورۍ له امله هېواد کړکېچ کې پاتې کېږي نو ايا دا بايد ددې منتق وګرځي چې دداسې کمزوري رهبر (ولسمشر) ملت (وکيل) د کار موده بايد د هغه قيد پربنسټ چې ټاکنې ترسره نه شوې وغځېږي؟
- ايا د همدغه نابريالي کس ناوړتياوو چې تشه يې رامنځته کړې، ددغې تشې ډکولو لپاره خپل کار ته دوام ورکړي او که د ځايناستي حکومت له لارې بل وړ کس ته بايد د سمون لپاره لاره هواره شي چې د ولسواکۍ بنسټ او ملت پرمختګ وکړي؟
- که ولسمشر پخپله د واک تشه رامنځته کړې وي او د ټاکنو ترسره کولو وس او توان ونلري او د ورته حالت د لمنځه وړلو اراده ونلري ددغه شان نظام پايله به څنګه وي؟

پورتنۍ پوښتنې د قانون پربنسټ چې ټاکنې نه وي ترسره شوي موده غځېدلو حل ناوړه سرغړونې دي، همدا اوس له ورته حالت سره لاس او ګرېوان يو او دغه ډول اټکل پخپله ستونزه ده ځکه په اساسي قانون کې ددغه شان مبهم حالت شتون سره داسې جزيرې راپيدا شوي ترڅو له هغو څخه يو ناوړه سياسي عرف په پای کې وزېږول شي، خو اړينه داده چې د عمومي اصولو او ټولو نورو مادو په پام کې نيولو سره بايد قانوني لارو څخه ټولمنلی حل راووځي.

د نظام ډول او څرنګوالی د اساسي قانون په لومړنيو مادو کې روښانه شوی چې جمهوريت يادېږي. په ۴ ماده کې ملي حاکميت د ولس يا ملت ملکيت ګڼل شوی چې پخپله يا د استازو په مرسته سپارل کېږي چې پدې تړون کې د مودې عنصر ۵ کلن دی او دوام يا غځېدل يې له بېړني حالت پرته د ولسمشر له وسه بهر ده او د تړون ښکاره ماتېدل ګڼل کېږي.

د اساسي قانون ۱۴۷ ماده داسې حکم کوي که د ولسمشرۍ يا د ملي شورا تقنيني دوره په بېړني حالت کې پای ته ورسېږي نو نوي ټاکنې نه ترسره کېږي، د ولسمشر او شورا د غړو کاري موده د ۴ نورو مياشتو لپاره غځول کېږي،که بيړنی حالت له ۴ مياشتو ډېر وغځېږي نو د ولسمشر لخوا لويه جرګه راغوښتل کېږي. د بېړني حالت له پای ته رسېدو ۲

میاشتې وروسته ټاکنې ترسره کېږي. په دې حکم کې روښانه راغلي چې د ولسمشر او ملي جرګې (ملي شورا) کاري موده (له ټاکل شوې مودې څخه غځول)، یوازې په بېړني حالت کې جواز لري یعني د جګړې ویره، ناڅاپي ګډوډي، د طبعي پېښو او نور له امله چې خپلواکي او ټولنیز ژوند وګواښي، ددغو دواړو بنسټونو کاري موده یوازې د څو میاشتو لپاره تمدید بدلای شي او هغه هم د ټاکلي مهال وېش پر بنسټ (د اساسي قانون ۱۴۳ ماده).

د ۱۴۷ مادې حکم روښانه دی چې که بیړنی حالت له ۴ میاشتو ډېر شي ولسمشر دې لویه جرګه را وغواړي ددغو ټولو تدابیرو موخه داده چې د ټرون د مودې عنصر باید ومنل شي له بیړني حالت پرته ولسمشر په هېڅ بهانه نشي کولای خپل کار ته دوام ورکړي او نه هم د ۵ کال د چنګاښ له ۱ نېټې څخه زیاته خپله موده غځولی شي.

له پورتني حکم څخه په ښکاره معلومېږي چې په ۱۳۸۸او ۱۳۹۴ کلونو کې د ولسمشر د کار دوام د اساسي قانون په بډ یا خلاف وو. همدا شان د ۱۲ تقنیني دورې درې (۳) کاله غځول د اساسي قانون ښکاره له پښو لاندې کول دي. نو پر همدې بنسټ حکومت او ټولو نورو اړخونو ته وایو چې تېرې، تېروتنې دې د استناد په ډول نه راوړل کېږي بلکه له هغو څخه دې د اساسي قانون د ملاتړ او د هغه عملي کولو لپاره ګټه پورته شي چې سیاسي ټیکاو راشي.

1 - یوه بله پوښتنه هم رامنځته کېږي چې که د ولسمشر د کار موده د پنځم (۵) کال د غبرګولې په ۱ نېټه پای ته رسېږي، د مرستیالانو موده هم ورسره یوځای پای ته رسېږي؟

همدارنګه که ولسمشر او لومړی مرستیال یو وخت کې مړه شول، په ترتیب سره به دویم مرستیال، د مشرانو جرګې ریس، د ولسي جرګې ریس، د بهرنیو چارو وزیر د اساسي قانون ۶۷ مادې د حکم پر بنسټ د ولسمشر دنده په غاړه اخلي او اوسنی حالت د اساسي قانون ۶۸ مادي حالت نه دی، نو ولسمشر او کابینه دا اهلیت نلري او همدا شان د مشرانو جرګه، ولسي جرګه او د بهرنیو چارو وزیر قانوني تشه کې شتون لري او کلونه کېږي چې ځایناستی حالت لري.

د مرستیالانو ګمارلو لپاره ممکن د اساسي قانون ۶۸ مادې ۱ بند حکم تطبیق شي خو دا به غیر اخلاقي کړنه وي. غوره داده چې د یوې ملي سیاسي ټولګې له لارې د ځایناستي حکومت چې تلپاتې حل دی، لارې ولټول شي چې بیا به هېڅ حکومت له قانون څخه ناوړه ګټه پورته کولو وړ نه وي.

### د اوسنی حالت او حکومت، سیاسي ارزونه او د قانون جوړونې نشتون

په کومه کچه چې یو نظام د خپل پاینبت او دوام لپاره حقوقي او قانوني مشروعیت ته اړتیا لري همداشان قوانین هم پر خپل وخت سمون او جوړونې ته اړتیا پیداکوي، هغه قوانین چې د وخت اړتیاوې پوره نشي کړای، ستونزې رامنځته کوي او د ستونزو له منځه وړلو لپاره سیاسي ملاتړ ته اړتیا پیداکوي، په ځانګړې توګه هغو هېوادو کې چې په ناورین یا له ناورین څخه وروسته حالت کې شتون لري سیاسي جوړجاړیو ته چې ملي ټیکاو راولي اړتیا لیدل کېږي خو له بده مرغه زموږ په قوانینو کې دځایناستي حکومت، بډیالي ډلې یا حزب اختلاف او د شراکتي حکومتونو جوړښتونو لپاره قانوني توکي شتون نلري.

ددغو قوانینو د نشتون له امله په ۱۳۹۴ کال کې ونه توانېدلو چې د ټاکنو په ترځ کې رامنځته شوی بحران مدیریت کړای شو او سیاسي جوړ جاړی د نظام د نسبي پاینبت لامل شو چې پایله کې یې د ملي یووالي حکومت رامنځته شو، له بده مرغه دغه حکومت قانوني ملاتړ نه درلود نو له همدې امله ونه توانېده چې د نظام پاینبت، د فساد مخنیوي او د ټاکنو ښه مدیریت کومې ژمنې چې یې کړې وې هغه ترسره کړي. دا ناقانونتوب لامل شو چې دواړو لورو د ځواک څخه ډېره ناوړه ګټه پورته کړه او د ملي ګټو پر ځای یې

ځاني ګټې وپاللې، دغو کړنو هېواد له کورنیو ستونزو او ناورین سره مخ کړی او په نړېوال کچه یې زموږ اړیکې له نړېوالو سره ډېر ترینګلي حالت ته بیولي.

همدارنګه د ملي یووالي حکومت چې د هېوادوالو او وګړو امنیت ساتل یې له اساسي دندو څخه دی، دوی د امنیت په ساتلو کې پاتې راغلي چې په پایله کې ۵۰۰۰۰ سرتېري شهیدان او په سل هاوو زره ملکي وګړي ټپیان او شهیدان شوي دي او ددې بېشانه سربښندنې په پایله کې ملي ګټو ته د رسېدو پرځای مو په تېرو ۵ کلونو کې هغه سیمې هم دلاسه ورکړې چې د نظام ترسیوري لاندې وې.

همدارنګه د فساد پرضد مبارزې هم سیاسي رنګ اخیستی، مالي پروسې هم د تدارکاتو په اداره کې په شکمن ډول انحصاري شکل غوره کړې او ټول واکونه یې په یوه اداره کې راټول او محدود کسان یې پرې واکمن کړي دي، په ځینو تړونونو کې د کره اسنادو په شتون کې چې رسنیو ته هم په لاس ورغلي دي د شرکتونو استازي او د ملي یووالي حکومت له سرکښانو او چارواکو سره کورنۍ اړیکې لري او د هغوي سره تړونونه د "یوازنۍ سرچینې" پربنسټ ورکړل شوي چې د پوښتنو وړ دي او دا لار د روڼتیا بنسټ نه شي کېدای .

حکومت د ولسواکي په پیاوړتیا کې هم ناکام پاته شو، د ۱۳۹۷ کال د ولسي جرګې ټاکنې تر ټولو ښه بېلګه ده چې د قانون سمونې په پلمه د نړۍ په تاریخ کې تر ټولو له درغلیو ډکې او جنجالي ټاکنې وې، چې له قانوني مودې ۳ کاله وروسته تر سره شوې او دادی پایلې یې نږدې ۹ میاشتې کېږي لاهم د کمېسیون ترکار لاندې دي همدارنګه د ولسمشرۍ ټاکنې هم ځنډول کېږي ان تر دې چې د حکومت کاري موده د غبرګولي په ۱ نېټه ۱۳۹۸ پای ته رسېږي، حکومت د سترې محکمې له لارې د خپلې مودې د غځولو ناقانوني هڅه کوي هغه هم په داسې وخت کې چې ولسمشر غني پخوا د خپلې نوماندۍ پروخت د پخواني حکومت ورته پرېکړه نه منله او هغه یې غیراخلاقي، غیرقانوني او د شرم وړ بلله، خو اوس د خپل واک غځېدو لپاره په ډېره سپینسترګۍ همغه هڅه کوي، چې د حکومت سیاسي اراده یې تر پوښتنولاندې راوستلې ده.

همدارنګه اوسنی ولسمشر د ولسمشرۍ ټاکنو د سیالۍ لپاره د خپلو سیالانو په مقابل کې د کمپاین په موخه له دولتي امکاناتو او سیاسي واکونو څخه ناوړه ګټه پورته کوي او دخپلې ډلې غړو ته په غیرقانوني ډول په ملي مسایلو کې د ګډون حق ورکوي او هغه کسان چې په دولت کې دندې لري او د خپلو بنسټیزو حقوقو پر بنسټ له بل نوماند څخه ملاتړ کوي د حکومت له لوري له دندې ګوښه کېږي.

له بدمرغه نه یوازې ارګ دسولې په راوستلو او په هېواد کې د ثبات په ټینګولو کې د ولس د غوښتنو خلاف پاتې راغلی، د سولې بهیر چې دامریکا متحده ایالاتو له لوري پیل شوې او په ښه توګه روان دی حکومت یې د مخې ډب کولو هڅې کوي.

د ولسواکۍ پربنسټ حکومتونو کې چې کله قوانین د حالاتو ځواب نشي ویلای او حکومتونه د ستونزو سره مخامخ کېږي نو د یو سیاسي او ملي جوړجاړي ملاتړ ته اړتیا لېدل کېږي چې د منلو وړ پرېکړې رامنځته کړي بیا د مقننه قوې له لوري ورڅخه قوانین جوړېږي. همدارنګه جګړه کې ښکېلو یا جګړه ځپلو هېوادونو کې کله ناکله د واک سولیز لېږد د قوانینو د نشتون له امله نه کېږي او د بحران څخه د وتلو په موخه مخور او سیاسیون د ملي ګټو او پخلاینې لپاره راټولېږي، د کړکېچ څخه د وتلو لپاره تګلارې او قواعد جوړوي چې سیاسي ټیکاو رامنځته کړي.

اوس د داسې یوه ټولمنلې تګلاره جوړول د ټولو تاریخي مسولیت دی او هم باید لومړیتوب وي چې ټولو سیاسي خوځښتونو ، حکومتونو او ولس ته د منلو وړ وي. ترڅو د غبرګولي له ۱ نېټې ۱۳۹۸ کال څخه وروسته حکومت قانوني بڼه ولري او مشروع، خپلواکو ، رڼو او عادلانه ټاکنو ته لاره هواره کړي. د سولې خبرو اترو کې هم ډېر خواره واره اندونه د یووالي لورته بوځي، ترڅو د جګړې پای، اوربند او د مخالفینو سره تلپاتې سوله راوستل شونې کړي، ځکه اوسني حکومت سره مخالفین سوله نه کوي. پورتنۍ

هغه اړینې چارې دي چې راتلونکی بېړنۍ ځایناستی حکومت به د هغو په ترسره کول مکلف وي چې په لاندې تګلارو کې وړاندیز شوي دي.

## د غبرګولي ۱ نېټه ۱۳۹۸ کال له بحران څخه د وتلو تګلارې او چارې

د ۱۳۹۸ کال غبرګولي ۱ نېټې له کړکېچ څخه د وتلوپاره لاندې لارې چارې مرستندویه کېدای شي چې پرلپسې موږ لټولي او څېړلي، چې د غبرګولي له ۱ نېټې څخه ورسته یو بېړنۍ ځایناستی حکومت رامنځته شي چې په ترڅ کې مو درې (۳) لاندې تګلارې پیدا، طرحه او پېژندنې ته برابرې کړي دي چې، ځایناستی یا سرپرست حکومت د اوسنیو ولسمشرۍ نوماندانو+ مخالفینو څخه د خپلمنځي ټاکنو له لارې، اوسنی ولسمشر د ځایناستي په توګه او د مشرانو جرګې مشر د ځایناستي ولسمشر په توګه.

### لومړۍ او ټولمنلې تګلاره: ځایناستی یا سرپرست حکومت د اوسنیو ولسمشرۍ نوماندانو+مخالفینو څخه د خپلمنځي ټاکنو له لارې

افغانستان کې لنډمهالی یا عبوري یا موقت حکومت راتګ نن سبا زموږ د سیاستوالو، رسنیو، چارپوهانو او حتا بهرنیانو لپاره توده خبره او سیاسي شننو کې په ناسم ډول برخه دی. په افغانستان کې دوی د ځایناستي حکومت او لنډمهالي حکومت ترمنځ په توپیر کې سره ورک دي .اوس دا ډېره اړینه ده چې لنډمهالي یا عبوري حکومت سره د ځایناستي یا سرپرست حکومت په اړه پوهاوی او قوانین رامنځته شي، ددې لپاره اړینه ده چې لومړی د لنډمهالي او بیا ځایناستي حکومت پېژند یا تعریف وکړو.

***لومړی: لنډمهالی، عبوري، یا Provisional یا Interim حکومت***

لنډمهالي حکومتونه هغه وخت رامنځته کېږي چې د پوره نظام نه شتون وي لکه د نویو جغرافیو د رامنځته کېدو په وخت کې یا په نظام کې بشپړ بدلون ته اړتیا وي لکه د یوې ځانګړې ایډیالوژۍ پر بنسټ نظام او دولت له بدلون وروسته لنډمهالي حکومت ته اړتیا وي لکه د شوروي د یرغل له ماتې څخه وروسته لنډمهالی حکومت او بیا د تالبانو اسلامي امارت بدلون پر اوسني حکومت او ورته نورو حالتو کې لنډمهالي حکومت ته اړتیا وي.

***دویم: ځایناستی یا Caretaker Government***

ځایناستی حکومت د نړۍ د ډېرو دولتي قوانینو برخه ده، چې له بدمرغه زموږ قوانین ورڅخه بې برخې او نیمګړې پاتې شوي دي. ځایناستي حکومت ته هغه وخت اړتیا وي چې روان حکومتونه نابریالي وي او ولس په سولیز ډول د حکومت بدلولو غوښتنه وکړي. همدارنګه د ولسواکۍ پر بنسټ جوړو دولتو کې که له درېګونو ځواکونو لکه اجرائیه، مقننه او قضائیه څخه یو یا ډېر ناتوانه شي یا یې پر ټاکلي وخت ترسره نه شي، یا یو ځواک په بشپړ ډول بل تورن کړي چې ملت ته د حکومتي اسانتیاوو ورکولو توان نلري او د بدلولو قانوني غوښتنه یې وکړي نو ځایناستی حکومت رامنځته کېږي. د بېلګې په ډول که زموږ ولسي جرګه راپاڅي او د غوڅو رایو پر بنسټ د ملي یوالي حکومت د نه همکاریو په لړ کې شنډ کړي یا د ملي یوالي حکومت ولسي جرګه ړنګه کړي یا حکومت د ولسي جرګې ټاکنې پرخپل وخت ترسره نه شي کړای نو په دغو حالاتو کې ځایناستي حکومت ته اړتیا لیدل کېږي.

اوسنی حالت راښیي چې د کابل د حکومت بډیال، مخالفین یا تالبان هم د ټول نظام بدلون نه غواړي او سوله کولو لپاره به یې د ځایناستي حکومت غوښتنه پرځای، پر وخت او منتقي (منطقي) وي، چې د دوی تحریک او هلېځلې هم له سیاسي زیان سره مخ نشي، هم د هېواد سیاست کې خپله روا سیاسي ونډه ترلاسه کړي او هم سوله راشي،دوی باید د بې پرې

ځایناستي حکومت رامنځته کېدو غوښتنه وکړي. اوسني حالت سره ځکه مخامخ یو چې له بدمرغه د هېواد قوانین د ځایناستي حکومت په برخه کې نیمګړي جوړ شوي او هغه وخت کې چا چې قانونین جوړول، نه یې غوښتل چې ولس دا پیاوړتیا ولري چې ناوړه حکومت یا د هغه یو ناوړه ځواک سولیز ډول بدل کړي ځکه یې پر ځایناستي حکومت سترګې پټې کړي دي. دغه حالت څخه د وخت او تېرو حکومتونو په خپله ګټه او د ولس په زیان څو ځلې ګټه پورته کړه او حالات یې تردې راورسول چې ځینو په ناسم ډول د لنډمهالي حکومت غوښتنه تر ننه توده وساتله چې په بشپړ ډول ولس ته د منلو نه دی.

همداوس چې موږ دا لیکنه کوو حکومت د سولې په اړه دریځ او پروګرام نلري ځکه د سولې مشورتي لویې جرګې او غونډې ته د خپلې خوښې په زرګونو کسان چې کمپایني موخې یې ترشا دي راوغوښتل او قطر ته یې د سولې خبرو ورانولو لپاره د داسې سلګونو کسانو لیست چې خپلو ګټو او ډلو ټپلو پورې یې تړاو درلود واستاوه ترڅو د سولې خبرې وننګوي. سوله د غني، خلیلزاد او د تالبانو (طالبانو) د یو کس یا دغو لوریو څخه د یوې جرګې دنده ده. خو حکومت له واري یا موقعې څخه په ګټه پورته کولو د سولې مشورتي جرګې په نوم شاوخوا ۴ سوه میلیونه کمپایني لګښت او د سولې نورو جوړښتونو په نوم د خوار ملت په ملیاردونو لګښت ترشاه ناقانونه کمپاین وکړ، هغه هم په داسې وخت کې چې نېږدې ۷۰٪ هېوادوال د لوږې تر کرښې لاندې ژوند کوي او پاته نور هره ورځ جګړې او طبعي ناورینونه ځپي.

له دغه حالت څخه د وتلو او بېړنۍ سولې لپاره اړینه ده چې سیاستوال او ملت د ځایناستي حکومت غوښتونکي شي او په قوانینو کې داسې بدلون راولي که هر وخت کوم حکومت نابریالی وو چې ولس یې په قانوني او سولیز ډول له واکه د ګوښه کولو توان ولري. دا چاره به د تل لپاره د ناوړه حکومتونو رامنځته کېدلو مخنیوی وکړي. د مسولیت او عدالت ډله د یو پیاوړي او سولیز هېواد لپاره لاندې وړاندیز کوي.

### د ځایناستي حکومت د ګمارنې تګلاره

لوی څښتن دې په هېواد کې بیا داسې حالت نه راولي، خو د افغانستان له اوسني حالت څخه د وتلو لپاره ډېره اړینه ده چې ځایناستی حکومت تجربه شي، حکومت باید د یو تقنیني فرمان لمخې ځایناستي حکومت ته لاره هواره کړي. بېبریالو یا تالبانو ته هم غږ وکړي چې خپله ونډه واخلي ترڅو ټول لوري په سولیز ډول برخمن شي خو له دغه ځانخوښي او ځانغوښتونکي حکومت څخه دا تمه نشي کېدای چې د ملت په ګټه دې له واکه تېر شي. نو اړینه ده چې ملت او ملتپال پر تالبانو غږ وکړي چې ځایناستي حکومت ته خپل د خوښې یو یا څو کسان نوماند کړي چې په راتلونکو ټاکنو کې له خپلو شرتونو (شرطونو) سره برخه واخلي او د رښو ټاکنو له لارې د واک سولیز لېږد وشي. ددغې تجربې په رڼا کې راتلونکو حکومتونو کې وروسته قوانینو کې بدلون راشي او ځایناستی حکومت قانوني بڼه غوره کړي.

ځینې هېوادونه چې د ولسواکي او د دریګونو ځواکونو سیستم تجربه کوي د ځایناستي حکومت لپاره یې قوانین ټاکلي چې اوسني حالت کې موږ کولای شو د هغو تجربو په رڼا کې یو داسې ځایناستی حکومت رامنځته کړو چې د حکومت بېبریالو ته هم د منلو وړ وي او هم وکولای شي په تخنیکي ډول رښې ټاکنې ترسره کړي.

ددې لپاره که له ډېرو ، لګښتونو او اوږدو کړاونو تېرېږو نو تر ټولو غوره لاره د اوسنیو ۱۸ ولسمشرۍ نوماندانو په شتون کې لرو چې د بېبریالو په خوښه هم یو یا څوکسان ور ډېر شي او دغه ۱۹ یا ډېر نوماندان خپلمنځي ټاکنې ترسره کړي او له دغه منځ څخه د رښو ټاکنو په ترڅ کې یو کس د ځایناستي ولسمشر په توګه وټاکل شي. واک ورکړل شي چې اړینه ۱۰ یا ۱۵ کسیزه کابینه د اوسني حکومت په جوړښت کې جوړه کړي چې د هېواد اړینې چارې پرمخ بوځي او پرته له ټاکنو نورې پرمختیایي چارې وځنډول شي. هرڅوک چې د ټاکنو په ترڅ کې ځایناستي حکومت ته بریالی شو د ۱۳۹۸ ولسمشرۍ نوماندی څخه به تېرېږي.

۱۸ پاته نوماندانو څخه به ملي جرګې جوړه شي چې د مشورې تر بریده به د ځایناستي حکومت ترشا ودرېږي. ځایناستی حکومت به له ۳-۲ میاشتو په موده کې رښې ټاکنې ترسره او په سولیز ډول د ولسواکۍ په رڼا کې حاکم ګوند یا حزب حاکم ته واک وسپاري او په خوا کې باید یو بدیال ګوند یا حزب اختلاف له دویم راتلونکي نوماند څخه پر حکومت د څارنې لپاره جوړ کړي. د ملي یووالي حکومت په ډول د هر ډول ګډ حکومت رامنځته کېدو څخه تر هغو مخنیوی وشي ترڅو چې شریک یا مختلت حکومت لپاره قوانین ټاکل کېږي.

د دې لپاره چې د ځایناستي ولسمشر د ټاکنې بهیر ملاتړ پراخ شي نو کېداي شي د ولسمشرۍ نوماندانو سره ، رسمي سیاسي ګوندونو ،جهادي مشرانو ، د سترې محکمې رئیس، د ولسي جرګې رئیس، د مشرانو جرګې رئیس، د علماو شورا رئیس، د حقوق پوهانو د ټولنې رئیس، نورو صنفي او مسلکي ټولنو مشرانو ته د رایې ورکولو حق ورکړل شي، خو د وخت او سرچینو نشتون به دا بهیر له ستونزو سره مخ کړي.

همدارنګه راتلونکي کې د ځایناستي حکومت لپاره موږ یو بله قانوني لاره هم درلودلای شو ، د ولسمشرۍ د مودې پای د غبرګولي، ۱نېټه او د ملي جرګې یا ملي شورا د پای موده د چنګاښ، ۱نېټه ټاکل شوې، ترمنځ یې ۳۰ ورځې دي، که د ملي جرګې پای نېټه د وږي ۱ وټاکل شي نو دا به موږ ته ۳میاشتې وخت راکړي که د وخت حکومت ونه توانید چې د ولسمشرۍ ټاکنې ترسره کړي نو د اساسي قانون ۶۷ مادې پر بنسټ به د جرګو له مشرانو یو ځایناستی وټاکل شي، چې یوازېنۍ دنده به یې د ولسمشرۍ ټاکنې ترسره کول او واک ټاکلي ولسمشر ته سپارل وي.

### د دې تګلارې ګټې

1 - که ولسمشر غني له ۲ میاشتې ناقانونه حکومتي واک څخه تېر شي، په ترڅ کې به د سولې، ولسواکۍ او قوانینو ته د درناوي اتل شي.
2 - ځایناستی حکومت به قانون شي چې د تل لپاره به د ټاکنو پر وخت او ناوړه حکومتونو د سولیز بدلون لپاره لاره هواره کړي.
3 - د ملت شتمنۍ به په ناوړه ډول د کمپاینونو او ناوړه حکومتونو لپاره نه کارېږي.
4 - د ځایناستي حکومت د راتګ له وېرې به حکومتونه ناوړه چارې نه ترسره کوي او قانون ته به درناوی کوي.
5 - د سترې محکمې او نورو اړوند ادارو درنښت به پرځای وي او د وخت حکومتونه به ناوړه ګټه ورڅخه نه پورته کوي.
6 - دحکومت هېڅ قوه به د ملي ګټو پر خلاف هڅې نه کوي.

### ددې تګلارې زیانونه

1 - اوسنی حکومت به یې په اسانه نه مني، چې له روڼاندو ، سیاستوالو او ولس څخه به هلېځلې غواړي.

ځینې نورې ټاکنیزې ډلې وړاندیز کوي چې اوسنی ولسمشر د ځایناستي په توګه دنده واخلي او له ۱۳۹۸ ولسمشرۍ له نوماندۍ څخه تېر او اوسنی ولسمشر به پرخپل ځای وي او ورسپارل شوې حکومتي دندې به په ښه توګه سرته رسوي. دوی به د حکومتي او سیاسي مشرانو، نړېوالې ټولنې استازو، ملګري ملتونو او افغانستان سره د مرسته کوونکو هېوادونو استازو او هغوی چې په افغانستان کې سیاسي شتون لري په وړاندې به اوسنی ولسمشر د ځایناستي ولسمشر په توګه چارو سنبالولو، د رنو ټاکنو ترسره کولو او سوله راوستلو دندې په غاړه لري، دوه (۲) جرګې به د ولسمشر سره د مرستې لپاره جوړېږي چې یوه یې سیاسي او ټاکنیز ځار او بله د حکومتولۍ او پخلاینې ځار لپاره وي. دا هم د سیاسي ټیکاو لور ته تګ او له ناورین څخه د مخنیوي یوه بله لار کېدای شي.

یو ځل بیا ټینګار کوو چې د اساسي قانون پربنسټ د ۱۳۹۸ کال د غبرګولي په ۱ نېټه د حکومت وخت پای ته رسېږي او له دې وروسته اوسنی حکومت هېڅ سیاسي، حقوقي او قانوني جوړجاړي جواز نلري. په همدې بنسټ اړینه ده چې له یادې وارې یا موقعې څخه په ګټې اخیستنې د حکومت مشران د ولس غوښتنو ته درناوی وکړي، تر نوماندۍ تېرشي او ځایناستی حکومت اداره کړي ترڅو د حکومت د ړنګولو مخنیوی وشي.

### د دې تګلارې ګټې

1- که ولسمشر غني له ۲ میاشتې ناقانونه حکومتي واک څخه تېر شي، په ترڅ کې به د سولې، ولسواکۍ او قانون څخه د درناوي اتل شي.
2- قانون به خپله ولسمشر عملي کړی وي.

### د دې تګلارې زیانونه

1 - کېدای شي ولسمشر غني سره مخالفین سوله ونه کړي، لکه اوس چې ورسره خبرې نکوي.
2 - د ولسمشر غیرقانوني واک به سیاسیون ونه مني نو کېدای شي هېواد بحران ته لاړ شي.
3 - د قانون ماتېدو اصلي عامل به خپله ولسمشر وي.



ځینې نورې ډلې وایي چې له حقوقي پلوه د حکومت وخت د اساسي قانون ۶۱ مادې پر بنسټ پنځه (۵) کلنه دوره د غبرګولي په ۱ نېټه پای ته رسېږي او وړاندیز کوي چې د مشرانو جرګې مشر به د اساسي قانون ۶۸ مادې څخه په اتکل او د جرګو د قانونیت په ترڅ کې د ځایناستي ولسمشر دنده ترلاسه کړي او رنې ټاکنې به ترسره کړي. د مشرتابه جرګه چې د ولسمشرۍ نوماندانو د وروستي لست څخه به جوړېږي، له ځایناستي حکومت څخه ځار او نورو اړوند چارو کې مرسته او همکاري کوي.

د ولسي جرګې مشر به د اساسي قانون د ۶۷ مادې پربنسټ د ځایناستي ولسمشر دنده پرغاړه اخلي او د ملي جوړجاړي پربنسټ به د مشرتابه جرګې لاندې حکومت، ټاکنې او سوله پرمخ بیایي. مشرتابه جرګه به د ځایناستي حکومت او ځایناستي ولسمشر دندې او کړنې ځاري او په میاشت کې به دوه ځله ملت ته راپور ورکوي.

د ملي یوالي حکومت چارواکي به د غبرګولي په ۱ نېټه د ځایناستي حکومت رئیس ته په سولیز ډول حکومت سپاري او د نوي ځایناستي حکومت مشر به د اساسي قانون ۲۲ مادې ۱ بند پربنسټ او د اساسي قانون ۲۷ مادي په کارولو پیلېږي.

د نوي حکومت رئیس به د اساسي قانون ۲۷ مادې ۳ بند پر بنسټ ټاکنې په خپل وخت ترسره کوي. په ټاکنیز وخت کې ځنډ او بې غوري به هېڅ ډول د منلو وړ نه وي او د ځایناستي ولسمشر د لېږې کولو او نوی ځایناستي ولسمشر ټاکل به د مشرتابه جرګې د غړو لخوا ترسره کېږي.

### د دې تګلارې ګټې

1 - که ولسمشر غني له ۲ میاشتې ناقانونه حکومتي واک څخه تېر شي، په ترڅ کې به د سولې، ولسواکۍ او قانون ته د درناوي اتل شي.

2 - قانون به عملي شي او تلپاتې سولې لپاره به لاره هواره شي.

### د دې تګلارې زیانونه

۱ - کېدای شي د ځایناستي ولسمشر په توګه د مشرانو جرګې له مشرسره مخالفین سوله ونه کړي، لکه اوس چې ورسره خبرې نکوي.

3 - همدارنګه ملي جرګه یا شورا هم انتصابي ده نو ځکه دا تګلاره به هم قانوني ستونزې ولري.

## څلورمه تګلاره: ولسمشرۍ نوماندانو سربېره د ګوندونو، مدني ټولنو او نامتو کسانو څخه ځایناستی حکومت

ځینې نورې ډلې وایې چې له حقوقي پلوه د حکومت وخت د اساسي قانون ۲۱ مادې پر بنسټ پنځه کلنه دوره د غبرګولي په ۱ نېټه پای ته رسېږي. دوی وړاندیز کوي چې د ولسمشرۍ نوماندان چې له خپلې راتلونکې نوماندۍ تېر شي ورسره سیاسي او مدني جوړښتونه وړ کسان د ځایناستي ولسمشر لپاره ونوموي او رایه ورکوونکې د ولسمشرۍ نوماندان او د اړوندو جوړښتونو مشران یا له دوی څخه یوه ډله وي. دغه ډله غواړي چې په هر ډول وي د ملي یووالي حکومت پای ومومي که پایله کې یې هر وړ یا ناوړ کس واک ته رسېږي د دوی لپاره اړینه نه ده. ددې لپاره دوی غواړي چې د ځایناستي حکومت راوستلو لپاره له هرې وسیلې کار واخلي چې ډېری د ځان ملګري کړي. نو ځکه وایي چې ګوندونه، مدني ټولنې، نامتو کسان، د ولسمشرۍ له ۱۸ نوماندانو سره یوځای ځانونه ځایناستي ولسمشر لپاره نومولی شي. که داسې وشي د ځایناستي ولسمشرۍ هیلمنو نوماندانو شمېر به سلګونو ته ورسېږي چې یوې انارشي او ګډوډۍ ته به لاره پرانیزي. سره لدې چې دغه تګلاره په بشپړ ډول د نوماندانو ترمنځ د بې باورۍ، پرځان د نه باور او نه همکارۍ ترجماني کوي خو دوی د ولسمشرۍ نوماندانو د شورا په نوم ګواښ کوي چې که د ملي یووالي حکومت د غبرګولي له ۱ نېټې څخه وروسته خپل غیرقانوني کار ته دوام ورکړي پر وړاندې به یې غبرګون وښیي.

### د دې تګلارې ګټې

1 - که عملي شي دې تګلاره کې به ډېری برخه ولري.

### د دې تګلارې زیانونه

1 - راتلول ، په یوه تګلاره سره جوړېدل به ډېر وخت او سرچینو ته اړتیا ولري چې دا بهیر به له ستونزو سره مخ کړي.

2 - کېدای شي بهیر له ګډوډیو سره مخ شي.

3 - یو ناوړه کس کېدای شي واک ته ورسېږي.

## افغانستان کې ولې ځایناستې حکومت؟

افغانستان یو ځایناستي حکومت ته ځکه اړتیا لري چې په ټاکنو کې د حکومت بې پرېتوب او ناپیلتوب وساتل شي. په ټاکنو کې له ملي واک، ځواک، شتمنیو او سرچینو څخه ناوړه ګټه پورته نه شي، ځکه اوسنی ولسمشر خپله هم نوماند دی او همدا اوس یې په ناوړه توګه له وخته وړاندې ټاکنیزې سیالۍ پیل کړې. له مودې وړاندې له دولتي امکاناتو او ادارو څخه په څرګند ډول غیرقانوني کمپاین لپاره ګټه پورته کوي، د خپلې ټاکنیزې ډلې نویو غړو ته د ملت په بودیجه په سترو حکومتي پرېکړو کې د ټولو قوانینو او تګلارو په خلاف د ګډون حق ورکوي. همدارنګه هغه کسان چې د خپلو بنسټیزو حقوقو پر بنسټ له بل نوماند څخه ملاتړ کوي د ولسمشر له خوا له دولتي دندې ګوښه کېږي له دې سره لاندې هغه نور لاملونه دي چې د هېواد چارې باید ځایناستي حکومت ته وسپارل شي.

۱- اوسني حکومت سره مخالفین سوله نه کوي، چې سوله ونشي نو په هېواد کې امنیت او پرمختګ نشي راتلای.

۲-د غبرګولي په ۱ نېټه ۱۳۹۸هېواد له حقوقي، قانوني او سیاسي ستونزو سره مخکېږي چې سیاسي تیکاو به لا بدتر کړي، چېرته چې سیاسي ټیکاو نه وي سوله او امنیت نشي راتلای او د دوی په نشتون کې پرمختګ نشي کېدای.

۳- د ملي یووالي حکومت، پرلپسې ناوړه پایلو د ولسواکۍ بهیر ننګولې او ولس یې د ټکر له ګوابس سره مخ کړی دی.

۴- د حکومت غیرقانوني حالت د ټولواکۍ بڼه خپله کړې دا به حکومت اړ کړي چې خپل پاینبت په بېړني حالت او اړودوړ راوستلو کې وګوري، ولسواکي به وځپي له دغه ناقانونه حالت څخه به د هېواد دوښمنان ګټه پورته کړي او لا نور کړکېچن حالت به راشي.

۵- حکومت نه یواځې دا چې د سولې په راوستلو کې ریښتینی ندی بلکې غواړي چې په خپلو شومو پلانونو سره د افغانستان د خلکو اساسي غوښتنه چې سوله او امنیت دی د ناکامۍ له ګوابس سه مخ کړي او دا ملي پروسه په داسې غوښتنو سره چې ګواکې تلپاتې سوله غواړو او باعزته سوله غواړو له منځه یوسي.

۶-د تېرو ۴۰ کلونو جګړو څخه وروسته سوله او امنیت د ولسواکۍ او ملي ارزښتونو په رڼا کې د هېوادوالو بنسټیزه غوښتنه ده چې یوازې د رڼو ټاکنو په پایله کې قانونیت او مشروعیت راتلای شي. رښې ټاکنې د نظام د پاینبت او تلپاتې ولسواکۍ لپاره زموږ د ویاړلي ملت نه هېریدونکی اصل دی.

۷-د هېواد اوسنی ناوړه سیاسي، امنیتي، اقتصادي او فرهنګي حالت د ملي یووالي حکومت د ناوړه کړنلارو پایله ده.

۸ -په دفاعي او امنیتي برخو کې د مشرتابه کمزورتیا د دغو ځواکونو د بېشانه مړیني زیان او د حکومت تر واک لاندې سیمي له لاسه ورکړي چې له امله یې په هېواد کې دننه کړکېچونه ډېر کړي او د بهرنیو کوابنونو په مخنوي یا ماتولو کې بشپړ ناکام وو.

۹- تر ۷۰ ٪ ډېرې مادې د اساسي قانون د ملي یووالي حکومت کې تر پښنو لاندې شوي چې د افغانستان د حقوق پوهانو ټولنې څېړنو لمخې له ۱۲۲ مادو څخه ۹۴ مادې تر پښنو لاندې شوي دي چې ډېری یې د ولسمشر له لوري سرغړونه شوې ده.

۱۰- د فساد په مخنيوي کې هم حکومت ناکام وو او په پايله کې يې افغانستان د نړۍ يو تر ټولو فسادګرو هېوادونو په لړ کې راوست چې پرمختګ او سوداګريزې ستونزې يې ننګولې.

۱۱- اوسنی حکومت له پيله د دوو(۲) کسانو د يوناوړه سياسي جوړجاړي په ترڅ د بهرنيو تر څارنې لاندې منځته راغلی چې قانوني بنه يې نه درلوده، هغه موده يې هم د غبرګولي په ۱ نېټه ۱۳۹۸ کال پای ته رسېږي، همدارنګه له لومړۍ ورځې څخه دغه حکومت هم يو ډول ځايناستی حکومت وه چې قانوني بنه يې نه درلوده او نه يې د خپلولو هڅه وکړه. تېرو ولسي جرګې ټاکنو ته په کتو او ولسمشرۍ راتلونکو ټاکنو کې ځنډونه د حکومت توان او اداره دواړه تر پوښتنې لاندې راوستي او دا څرګندوي چې دا حکومت هېڅکله نشي کولای رڼې ټاکنې ترسره کړي، د ولسي جرګې ټاکنې يې په **۵** کلونو کې ونشوې کړای او دادی د ولسمشرۍ ټاکنې هم نشي ترسره کولای او ورځ تر بلې يې ځنډوي.

۱۲- له شک پرته د اوسني نامناسب حالت منځته راتګ لامل د ملي يووالي حکومت ولس ته غولوونکې ژمنې او شعارونه وه او ځينې د پوښتنې وړ حرکتونه ددې لامل شول چې د هېواد سياسي نظام له ګواښ سره مخ کړي.

۱۳-په اساسي قانون کې د جمهوري رياست د دورې پای د غبرګولي ۱ نېټه ده، يواځې بيړني حالت کې اساسي قانون توکي لري چې اوسنيو حالاتو ته ځواب ويونکي ندي، له اوسني حالت څخه د وتلو لپاره يوازې د سياسي جوړجاړي له لارې ځايناستی حکومت کېدای شي او بس.

پورتنيو لاملونو ته په کتلو سره اوسنی حکومت هېڅ کومه حقوقي او سياسي بقا نلري او له بل لوري سياسي او ملي ټولګې هم په يوه خوله د نوي رهبرۍ غوښتونکي دي، نو پدې اړوند زموږ وړانديزونه په لاندې ډول دي:

- له همدا اوسه د غبرګولي ۱ نېټې ته تياری ونيول شي، ولسمشر او مرستيالان د ددې لپاره چې نور هېڅ قانوني او مشورتي حق نلري او نه چاته د منلو وړ دي نو د خپلې کارې مودې پای د غبرګولي ۱ نېټه اعلان کړي.که چېرې ولسمشر او مرستيالان يې د اساسي قانون خلاف خپل کار ته دوام ورکړي، په هغه صورت کې د ملي يووالي حکومت په څېر بايد په لويه کچه يوه ټولګه رامنځته او يوه ځايناستې اداره جوړه شي او بيا نومړې اداره د حکومت چارې او رڼو ټاکنو د ترسره کول او له طالبانو سره د سولې خبرو پرمخ بيول ترسره کړي.
- داسې معلومېږي چې حکومت هر څه مشوش کړي غواړي چې له سوليزې لارې واک او سياست لېږد ته هم زړه نه ښه کوي او ولسواکې ته درناوی نه لري، ځکه د تېرو ناکامو حکومتونو په پشان غواړي چې د سترې محکمې له لارې خپل واک په ناقانونه ډول وغځوي. ولسمشر د ملت د رايو پربنسټ وکيل دی چې وکالت د موکل له اجازې پرته بل څوک نشي تمديدولای.
- له بل لوري په هره بهانه چې وي د حکومت د غيرقانوني دوام څخه ملت ستړی دی او نور يې دا حکومت د زغملو وړ ندی، پايښت به يې د هېواد ځوانې ولسواکۍ ته زيان واړوي، له همدې امله له ناورين څخه د وتلو يوازېنۍ لار ځايناستی حکومت دی.

د ولسمشرۍ نوماندان کولای شي چې د پورتنيو جوړښتونو په خپلولو سره ملت له ناورين څخه وژغوري. دا جوړښت به مخالفتونه ورک کړي او سوله به راشي، دا اوس ملي اداره يو ملي ملاتړ ته بېړنۍ اړتيا لري نو اړينه ده چې دغه حالت ته منتقي، قانوني او د ملت د ارادې له اړخه وڅېړل شي او ټولمنلی او د ټولو په ګډون حل يې راوځي.

## دغه حالت کې پاته کېدو ننګونې

اوسني حکومت سره مخالفین سوله نه کوي، چې سوله ونشي نو په هېواد کې امنیت او پرمختګ نشي راتلای، جګړه به دوام مومي، افغانان به نور زیانمن کېږي.

## پایله

د پورتنیو څېړنو، وړاندېزونو او حالاتو په رڼا کې ترټولو اسانه، نېږدې قانوني او ګړندی لاره، د یو لوستي، پوه او متفکر په توګه له ولسمشر غني څخه دا هیله ده چې تېر ناوړه تاریخ تکرار نه کړي او د یو تقنیني فرمان له مخې یا خپله ځایناستی شي یا له شته نوماندانو سره د خپلمنځي او بې جنجاله ټاکنو له لارې ځایناستی وټاکي او پاتې نورو نوماندانو سره په ګډه د راتلونکو ټاکنو او نبې ځایناستي حکومتولۍ لپاره د لاربښودانو جرګه یا شورا جوړه کړي. که ولسمشر غني له ۶ میاشتې ناقانونه حکومتي واک څخه تېر شي، په ترڅ کې به د سولې، ولسواکۍ او قانون ته د درناوي اتل شي.